محمد هارون خپل شعشعي


۲۲ اګست ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۶۱

### ۱۲۸- فناء او بقاء :

فناء او بقاء ( فنا او بقا) د اسلامي تصوف او عرفان تر ټولو لوړ پړاو يا مقام دئ . په دې دليل عرفاني مخکښانو په خپلو آثارو کې خورا اوږده او ژور بحثونه پر کړي دي . د فنا او بقا په اړه د متصوفينو او عارفانو نظريې تر زياتې اندازې له قرآني نصوصو څخه الهام اخلي؛ د مثال په توګه د نحل د سورې د شپږ نيويیم آيت ( ۱۶: ۹۶) په يوه برخه کې د فنا په باب داسې راغلي دي : « ما عندکم ينفد و ما عند الله باق » ياني هغه څه له منځه ځي، چې ستاسې څخه دي ؛ او هغه څه پاتېږي، چې له الله تعالی څخه دي . دغه راز، د رحمان د سورې په شپږ ويشتم آيت ( ۵۵: ۲۶) کې د فنا و عرفاني - فلسفي مسألې ته داسې اشاره سوې ده : « کل من عليها فان » ياني د ځمکې پر مخ هر څه فنا کيږي . د همدې سورې په اووه ويشتم آيت ( ۵۵: ۲۷) کې د بقا مسأله په دې ډول بيان سوې ده : « و يبقی وجه ربک » ياني ستاسې د پروردګار ذات تل تر تله پاتېږي . د اعلا د سورې په اوولسم آيت ( ۸۷: ۱۷) کې د آخرت و بنه والي او بقا ته داسې ګوته نيول سوې ده : « والآخرة خيروابقی » ياني آخرت ښه او پاتېدونکی دئ .

ويل کيږي، چې په اسلامي تصوف او عرفان کې، ابو سعيد ابوالخير ( ۳۵۷- ۴۴۰ هـ ق) د فنا او بقا تيوری له مخکښو طراحانو څخه دئ . د ده له نظره، فنا او بقا د عرفان هغه مقام دئ، چې په هغه کې د خدای او بنده، د اسمان او ځمکې، عرش او کرسی تر منځ هيڅ پرده نسته .

د اسلامي تصوف او عرفان ځلانده ستوری - حضرت خواجه عبدالله انصاري هروي (۳۹۶- ۴۸۱ هـ ق) د قرآن کريم د قصص د سورې د اته اتيايم آيت ( ۲۸: ۸۸) د يوې برخې په استناد، فنا بې خدايه د هرشي

نېست کېدو او پوپنا کېدو ته وايي . په دې مبارک آيت کې د فنا مفهوم داسي څرګند سوئ دئ : « . . . کل شی هالک وجهه له الحکم والیه ترجعون » ياني بې حق تعالی، هرشی پوپنا کېدونکئ دئ؛ يوازې د ده امر چليږي؛ او ټول ده ته ورځي . دعارفانو عارف ،خواجه انصاري، فنا د عرفاني سالک د حقيقت موندنې له سلو مقامو څخه، نه نيوييم (۹۹) مقام بولي۱ . د شيخ انصاري له نظره، بقا د عرفاني سيراو سلوک سلم(۱۰۰) يا وروستی ميدان دئ، چې په هغه کې اړېکي او علايق پرې کيږي؛ اسباب او وسايل مضمحل کيږي؛ رسوم او دودونه باطليږي؛ پولي او حدود له منځه ځي؛ تاريخ نابوديږي؛ اشارات پای ته رسيږي؛ عبادات ليرې کيږي؛ او يوازې د لوی څښتن ذات پاتېږي۲ .

نامتو او مخکښ عرفاني لاربنود - شيخ ابوالحسن علي هجويري ( په ۴۶۵ هـ ق کې مړ) هم په خپل ارزښتناک عرفاني اثر « کشف المحجوب » کې د عارفانو د فنا او بقا په اړه، په زړه پورې يادونې لري . د ده په نظر، فنا او بقاد وليانو د کمال هغه درجې دي، چې هورې عارف او صوفي د مجاهدې له تکليف څخه ازاد؛ او د حالاتو او مقامو تر بدلون لوړيږي۳ . د شيخ هجويري په اند، فنا او بقا د عرفاني سالک د سير او سلوک وروستی منزل دئ .

د اسلامي تصوف اوعرفان تر ټولو وتلی او منلی نظريه پرداز - مولانا جلال الدين بلخي رومي (۶۰۴-۶۷۲هـ ق) په خپل مشهور عرفاني شهکار « مثنوی معنوی » کې راوړي، چې دخدای حضور ته رسېدل ، له فنا پرته ناممکن دي . په بل عبارت، فنا و بقا ته د رسېدو يوازنی لار ده . له دې امله، حضرت مولانا، فنا يا نېستي د عارف معراج بولي . مولانا بلخي رومي، په يوه ښکلي بيان کې د فنا او بقا مقامونه، داسي انځور کړي دي :

هيچ کس را تا نگردد او فنا
نيست راه در بارگـــاه کبريا
گرچه آن وصلت بقا اندر بقاست
ليک در اول فنا اندر فناست
چيست معراج فلک اين نيستی
عاشقان را مذهب و دين نـيسی
نيستی هستت کند ای مرد راه!
نيست هست شو تا هست گردی از اله

پوهاند ا. م . ا. شوشستري، په « کشف المحجوب » کې د شيخ علي هجويري د دې نظريې ملاتړ کړئ دئ، چې وايي د فنا موخه او مقصد د بشري ذات او صفتو د له منځه وړلو يا نېست کولو په مانا نه دئ، بلکې په خدايي نور سره د ځان روښانول دي . همدا ډول د بقا مقصد هم، له بنده سره د خدای تعالی د يو ځای کېدو په مفهوم نه دئ؛ ځکه دا دواړه حالتونه محال او ناممکن دي۴ . ځينو عارفانو، فنا او بقا د عرفاني سالک په سير او سلوک کې د يوه مقام دوه مخونه ګڼلي دي . د فنا او بقا د مقام يو اړخ دا دئ، چې په هغه کې عارف له خپل هوډ او اختياره لاس اخلي؛ خپل صفتونه او ځانګړېتاوې پرېږدي؛ ترخپلې پوهې او هستی تېرېږي . بل يې له حق تعالی سره د يووالي، د هغه په ذات کې دنېست کېدو؛ د هغه له ارادې سره د يوځای کېدو؛ او په پای کې د هغه له هستی او صفتو سره د ګډېدو اړخ دئ، چې لومړي حالت ته يې فنا، محوه، نېستي، اضمحلال، غيبه او بې هوښي ويلي دي؛ او دوهم حالت يې د جمعې، اتحاد ، توحيد[ او وحدت ] په نومو ياد کړئ دئ۵ . په دې ډول، نتيجه اخلو چې فنا ريښتني معبود ته د رسېدو په لار کې د عرفاني سالک د سير او سلوک معراج دئ . په دې

لوړعرفاني مقام کي عارف خپل ذات، صفتونه اوعملونه د الله تعالی په ذات، صفتو او فعلوکي مضمحل کيي( کوي) . په بله ژبه، عارف ځان د داسي پاني په څېر انګېري، چي د باد او توپان له خوا په هوا سوي يي . هرڅه يي تر سترګو نېست او نابود برېښي . په ګردو کايناتو کي يوازي د حق تعالی نور او هستي ويني؛ او خپل ځان هم د هغي هستی يوه برخه ګڼي . له دې هستی سره تر يوځای کېدو وروسته، د عرفاني سالک ټول مزلونه او کوښښونه پای ته رسيږي . البته، د يوې هستی په مينه کي د دووکونو تر ټولو موانعو، تعلقاتو او حجابو تېرتېدل څه اسانه او ساده کار نه دئ .

د اسلامي تصوف او عرفان انګرېز پوهاند - سر ريچرډ برټن د« سند د صوفيانو » تر سرليک لاندي په خپله مقاله کي « فنا في الله » ته تر رسېدو پوري د شلو حضورو يا پړاوو بيان راوړئ دئ، چي په هغو کي (کي يي) د ځيني يادونه ډېره په زړه پوري او ارزښتناکه ده؛ د مثال په توګه، لومړی حضور د فنا في افعال پړاو ګڼي . دوهم حضور، د فنا في صفات مرحله بولي . پينځم حضور ته د فنا في شېخ نوم ورکيي، چي په هغه کي سالک خپله هستي د عرفاني پير په هستی کي فاني کيي . په دې حضور کي، لکه څنګه چي له نامه يي برېښي، شېخ يا مرشد د مُريد د ژوندانه پر ټولو برخو او چارو واکمني مومي . په نم/ نهم حضور کي د عرفاني سير او سلوک لاروی د حضرت آدم، حضرت نوح، حضرت موسا، حضرت عيسا او حضرت محمد عليهم السلام په شان اولوالعزمه پېغمبرانو په فضيلتو کي فنا کيږي . دولسم حضور د فنا في رسول پړاو دئ، چي د عرفاني طريقت لاروی، خپل هر څه د خاتم النبيين - حضرت محمد ( ص) پر هستی ښندي . شلم يا وروستی حضور د « فنا في الله » پړاو دئ . په دې مقام کي عارف هغي ستري او بې ساري هستی ته رسيږي، چي د کايناتو ټول موجودات پکښي نغښتي دي ؛ او تر دې هستی دباندي هيڅ لوړه او ستره هستي نشته[۶] .

د « کشف المحجوب » ليکوال د فنا تر ټولو لوړ او وروستی پړاو، د « فناء الفناء » ياپه فنا کي فنا، په نامه ياديي . د شېخ هجويري له عرفاني ډکټورينو سره سم، « فناء الفناء » هغه پړاو دئ، چي انسان هلته خپل نوم او نښان له منځه وړي؛ او کله چي له عارف څخه د هغه د نامه په باب وپوښتل سي، نو پر ژبه يي د الله نوم جاري سي[۷] . تر « فناء الفناء » وروسته، عارف د حق تعالی د هستی په يوه برخه اوړي؛ او په دې ډول په هغي هستی کي تل تر تله باقي پاتېږي . دې حالت ته په اسلامي تصوف او عرفان کي « بقاء » يا « بقاء بالله » وايي .

عارفان، د « فناء في الله » او « بقاء بالله » مقام ته تر رسېدو پوري د ناسوت، ملکوت، جبروت او لاهوت د عالمو تر منځ د عروجي او نزولي قوسو په څېر لاري او منزلونه وهي . په عروجي قوس سره له ناسوت عالم يا مادي نړۍ څخه د لاهوت عالَم پر لور ګامونه پورته کيي؛ او په نزولي قوس سره له لاهوت عالَم څخه د ناسوت عالَم پر لور نزول کيي .

د اسلامي تصوف او عرفان د وتلي انګرېز څېړونکي - پوهاند ر . ا. نيکلسن ( ۱۸۶۸- ۱۹۴۵ع) د خپلو څېړنو په لړ کي له يوې خوا ادعا کيي، چي د اسلامي صوفيانو د فنا او نېستی سوچ، د هندي فکر ي مکتب - ويدانتا « Vedanta » د وحدت الوجود له فلسفي څخه الهام اخيستئ دئ ؛ خو له بلي خوا بيا د دې خبري پرخلاف استدلال کيي، چي د اسلامي تصوف فنا له هغه حالت يا مقام سره يوشان نسو ګڼلای، چي په بوديزم او هندي ويدانتا کي د نيروانا « Nirvana » په نامه ياديږي . که څه هم فنا په دواړو فکري مکتبو( هندي ويدانتا او اسلامي عرفان ) کي د بشري خويو او ځانګړتياوو د ورک کولواو پوپنا کولو په مانا ده؛ خو د دواړو ترمنځ توپير په دې کي دئ، چي « نيروانا » يوازي منفي فنا ده؛ په داسي حال کي چي د « نيروانا » پرخلاف په اسلامي تصوف او عرفان کي فنا له بقا يا د خدای په هستی کي له تلپاتي ژوند سره ملګرې ده[۸] . پروفيسر

نیکلسن، د اسلامي تصوف او عرفان د فنا او بقا د نورو ځا نګرتیاوو په باب لیکي : « صوفي په دې پړاو کې د الهي ذات په اړه په خپل تفکر کې ډوب يي . د فنا وروستی پړاو ( فناء الفناء) ياني په بشپړه توګه د ځان هیرول دي . د افنا د خدای په هستی کې د استوګي يا بقا پیلامه ده . په فنا کې حواس له منځه ځي . د دریمي هجري پیړی نامتو صوفي - شیخ سري السقطي ( په ۲۵۷ هـ ق کې مړ) د عرفاني سالک ددغه پړاو په باب وايي : که د دغه مقام ښبنتن په توري سره پر مخ ووهل سي، هغه به د توري وارى احساس نه کي . تر فنا وروسته، دبقا مقام ته رسېدل دکامل انسان نخښه ده . کامل نه یوازي د خدای پرلور رهي يي، بلکي له ځوګانګی څخه خدای او له هغه سره یووالي ته رسیږي۹ . »

روښانیانو د خپل عرفاني سیر او سلوک په اتو مقاموکي د فنا او بقا په نامه د ځانګړي مقام يادونه، نه ده کړې . په روښاني طریقت کې د فنا او بقا ژوره فلسفي او عرفاني مسأله، د وصلت، وحدت او سکونت ترعنوانو لاندي بیان سوې ده، چي د پیر روښان د عرفاني لاري درې وروستي مقامونه دي . مفکر عرفاني لاربنود-بایزید روښان اورمړ ( ۹۳۱ - ۹۸۰ هـ ق) د وصلت، وحدت او سکونت د مقامو په پېژندګلوی کي د فنا او بقا د مقام ځیني ځانګړتیاوې په خورا دقت او ژورتیا سره بیان کړي دي . د ده د عرفاني نظریو له مخي د واک او اختیار پرېښوول؛ د پروردګار په هستی سره د هر کار کول؛ له لیري والي لاس اخیستل؛ او د وصال پیژنده د وصلت فعل دئ . په مطلق حق کي د ځان فاني کول؛ په مطلق باقي کي د ځان بیرته ژوندی کول؛ له اَحَد سره موحد کېدل؛ او له شره لاس پرېولل د توحید فعل دئ . سکونت، د مطلق حق د خویو غوره کول؛ اوله خپل خوی او خصلته لاس اخیستل، د سکونت فعل دئ . تر سکونت لوړ مقام نسته۱۰ .

د فنا او بقا ژوره عرفاني - فلسفي مسأله، زموږ د فکور عرفاني شاعر، علي محمد مخلص، د پښتو دیوان په خورا زیاتو غزلو کي هم په ډېر مهارت او ښکلي بڼه بیان سوې ده . هغه، په یوه غزله کي د دې مقام د لوړوالي او تر لاسه کولو په باب داسي وايي :

داناياڼو د دووکونو لذت ترک که
د دیدن لذت لذیذ دئ و دانـا ته
ځان ۱۱، جهان يي د خپل يار په مینه بايلو
له هستيیه ډېر مایـل دئ و فنا ته
د صورت په فنايي کي بقـايي ده
د هستی له تیاري تښتي و رنـــا ته
موتوا قبل ان تموت شه دوست وګوره!
ستا هستي خودي حجاب شو و رعنـــا ته

بل ځای، هر عرفاني لاربنود تر هغه مهاله د خاص الخاصو د توحيد له مقامه بې برخي بولي، چي د « فناء في الله » او « بقاء بالله » مقام ته نه يي رسېدلئ . په بله ژبه، د فنا او بقا مقام ته رسېدل، د مخلص په عرفاني او فلسفي ډکتورینوکي د کامل پیر له نه بېلېدونکو اړتیاوو او شرطو څخه شمېرل کيږي؛ لکه ښنګه چي وايي :

چي فنا في الله بقا بالله شي قطعـــي
موحد به په قطار د خاص الخاص شي
چي په هر لوري خپل مخ ګوري په سترګو

موحد به له هوسه په رقـــاص شي

مخلص، د عارفانو په زړو کې د الهي دیدار لوړه هيله، يوازي هغه وخت ريښتيني ګڼي، چي د لېونۍ مېني په اور کي سوځېدونکی عارف، په بري سره د فنا او نېستي تر پُل صراط تېر سي :

چي ځان که په لا نېست جانان يي وکوت

ګرد، غُبار شي بر طرف عيـان يي وکوت

لا نفي نفحه اول د اسرافـيل ده

چي يي نېست که ځان، جهان سلطان يي وکوت

ځان، جهان، غير، ګمان چي يي نفي کـه

په دوو کونو کښي موجود ديـان يي وکوت

چي پرده د بد ګمان شوه له زړه لري

پر هر لوري يار ظاهر عريان يي وکوت

د نورو مالوماتو دپاره وګورئ : **تخلقوا باخلاق الله، موتوا قبل** ان تموت، نفي او اثبات، **وحدت الوجود او وحدت الشهود**، هستي او نېستي .

**لمنليکونه**

۱ يثربی، فلسفۀ عرفان : تحليلي از اصول و مباني و مسايل عرفان ۴۴ .

۲ انصاری، صد ميدان ، با تصحيح و ترتيب علامه عبدالحی حبيبی ۲۶۱ ؛ يثربی، فلسفۀ عرفان : تحليلي از اصول و مباني و مسايل عرفان ۴۴ .

۳ هجويری ۴۶۸ .

۴ هجويری ۴۷۰؛ Shushtery 86 - 87 .

5 Ansari 36.

6 Burton 155 -157.

۷ هجويری ۴۷۵ .

8 Nicholson 17 - 18.

9 Nicholson 3, 61.

۱۰ اسفنديار ۲۸۲.

۱۱ اصل : ذان . د علي محمد مخلص د ديوان په خطي نسخه کي د « ځ » د افادي دپاره له څو بېلو نخښو څخه کار اخيستل سوئ دئ . په دغه غزله کي هر ځای د « ځ » د ترانسکريپشن دپاره له عربي « ذ» څخه استفاده سوي ده .

پاته لري